Public Disclosure Authorized

Public Disclosure Authorized

# په افغانستان

# کې

# د ځوانانو د ګډون لارې چارې

WORLD BANK GROUP

# اجرايي لنډيز

## عمومي کتنه

**افغانستان د نفوس له نظره د نړۍ له ځوانو هيوادونو څخه بلل کيږي، چې دوه په درې برخه نفوس يې تر ۲۵ کلونو کم عمر لري.** [1] د وړتياوو او مناسبو فرصتونو په لرلو سره ، افغان ځوانان دا ځواک او قوت لري، چې د خپل هيواد د ټولنيز پرمختګ، کارموندني او اقتصادي ودې سرچينه وي. په ورته وخت کې، اوسنۍ شمېرې او ډېټا دا ښيي، چې په افغانستان کې د ځوانانو له انسانيپانګې څخه استفاده نه کيږي او د پرمختګ او ودې لپاره يې د پام وړ کار نه دې ترسره شوی. ډېرى افغان ځوانان د زده‌کړو منځنۍ دوره نه بشپړوي او ۴۲ سلنه هغه کسان، چې عمرونه يې له ۱۵ څخه تر ۲۴ کلونو پورې دي، په زده‌کړو، دندو او روزنه (NEET) کې شامل نه دي او په دې برخه کې د ښځو شميرې لا زياتې او ۶۸ سلنه دي. په افغانستان کې اوسنی مبهم او ماتېدونکی وضعيت د افغان ځوانانو پر وړاندې پرتې ستونزې لا ډېروي. پر دې سر بېره، د جنګ او جګړې له امله د ټيپ‌والي، کډوالۍ او اروايي- ټولنيز مسايلو لپاره د درانه انساني لګښتونو منل او زغمل، د دې لامل شوي چې عامه ارګانونه ځوانانو ته - په ځانګړې توګه په کليوالو او سنړمزکمړ صعب العبورو سيمو کې د پرمختيايي خدمتونو په وړاندې کولو کې پاتې راشي او د خدماتو لړۍ دغو سيمو کې محدوده او ستونزمنه ګرځي. دغه ماتېدونکی وضعيت، د افغانستان اقتصادي وده له ستونزې ( او په دې وروستيو کې له پڅوالي) سره مخ کړې ده. اوسنۍ وړاندوينې ښيي، چې اقتصاد په ډېر ښه حالت کې هم د نيمايي هغو ۴۰۰۰۰۰ نوي کارګرو د جذبولو ظرفيت لري، چې وړاندوينه يې شوې هر کال به په راتلونکي يوه لسيزه کې د کار داخلي بازار ته داخل شي.

**په دغسې يو حالت کې، د افغانستان د ځوانانو لپاره د اقتصادي او ټولنيز ګډون د بهير چټکتيا او پياوړی کول د پراختيا پر وړاندې يو ښکاره خنډ ښکاري.** په وروستيو کلونو کې، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او په هيواد کې نړيوالو پراختيايي شريکانو يې د څو بېلابېلو نوښتونو له لارې د ځوانانو د مشارکت او شاملولو د لا پياوړتيا لپاره پانګونه کړې ده. د دغو نوښتونو ډېره برخه د ځوانانو او يا د هغوی د ټولنو لپاره د زده کړو او معيشتي اقتصادي فرصتونو پر پراختيا متمرکزه شوې دي. ياد نوښتونه يوازې په يو شمېر منتخبو کليوالي سيمو کې، چې د افغانستان ښاري سيمو ته نږدې والی لري؛ پلي کيږي. اوږدمهاله اندېښنه دا ده، چې اغېزمن پروګرامونه او د اړتيا وړ مرستو بستې څنګه جوړې او پلي کړو، چې هغه د ځوانانو لويه برخه تر پوښښ لاندې راولي، د هغوی له وضعيت او حالت سره  مناسب وي، د هغوی غوښتنې پوره کړي او ځوانانو او هم د هغوی ټولنې ته ګټور وي. دغې ستونزې ته د رسيدنې ارزښت تر اقتصادي لاسته راوړنو ډېر دی، او موخه يې د هوساينې پياوړتيا او ټولنيز نظم او انسجام بلل کيږي. قوي شواهد شته، په داسې يو حالت کې چې د ځوانانو نفوس په ډېرېدو دی او اقتصادي فرصتونه يې کم وي، ټولنيز محروميت او ناوتريخوالی زياتيږي.

**دغه څېړنه په افغانستان کې د ځوانانو د ګډون او شاملولو لارې چارې تحليل او تجزيه کوي. د دغې مطالعې موندنې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او هغو نړيوالو شريکانو لپاره، چې په افغانستان کې د ځوانانو پر اجنډا کار کوي، ځانګړې شوي.** هغه پراختيايي فعاليتونه چې موخه يې د افغانستان پر ځوانانو تمرکز وي، بايد د ځوانانو د اقتصادي، روزنيز، ټولنيز او اروايوهنې د اړتياوو بېلابېل اړخونه د يوې جامع پراختيايي تګلارې له لارې تشخيص او وپېژني. ډېر مهم ټکی دا دی، چې ياد فعاليتونه بايد له ځوانانو سره په ګډ تعامل او همکارۍ بايد طرح او جوړ شي. له همدې امله، دغه مطالعه پر دوه موخو ډلبندي شوې ده:

1. **د ځوانانو د ګډون لپاره د لارو چارو موندل:** له ځوانانو سره د بحث او خبرو اترو له لارې، دغه مطالعه د ځوانانو د هيلو درک کولو، هغه شرايط چې ځوانان غواړي پر بنسټ يې د مشارکت په بهير کې سم شامل شي، او هغه څه چې ځوانان

---

[1] ټول هغه ارقام چې په دې برخه کې وړاندې شوې دي د افغانستان اسلامي جمهوري د احصايې او معلوماتو د ملي ادارې دي. په افغانستان کې د ژوند د وضعيت سروې 2016-2017 (ALCS)، له ۱۵ څخه تر ۲۹ سني محدودې لپاره تنظيم شوې.

یې د خپل مشارکت او ګډون لپاره د ستر خنډ او یا د غوره شرایطو برابرونکي عوامل بولي، په لټه کې ده. په دې څېړنه کې یو شمېر توپيرلرونکو شرایطو او لارو چارو ته، چې ځوانان پکې ژوند کوي، د ولایتونو ترمنځ توپیر او همدارنګه د ښاري او کلیوالو سیمو ترمنځ انډول ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

2. **د افغانستان د ولسي تړون ( CCAP) پروژې تر چتر لاندې د ځوانانو د فرعي کمیټو ( YSCs) ارزونه:** د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د افغانستان ولسي تړون پروژه پیل کړې دی، ترڅو د سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو (CDCs) د پیاوړې کولو له لارې خلکو ته ښه ټولنیز خدمتونه ورسوي او په دغه پروژه کې برخه اخیستونکو ټولنو ته اساسي زېربناوې رامینځته کړي. اوسنی علاقه او لیوالتیا دا ده، چې په دې پوه شو ایا او څنګه له سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو څخه، په ځانګړې توګه د ځوانانو له فرعي کمیټو څخه د ځوانانو لپاره د پروګرامونو په طرح کولو کې ګټه اخیستی شو. دغه مطالعه د ځوانانو د فرعي کمیټې له غړو او د اړوند ټولنو سره د خبرو اترو له لارې، غواړي د دغو کار لپاره د دې کمیټو جوړښتی او تشکیلاتی ظرفیت او تر څنګ یې په دې برخه کې د ځوانانو فرعي کمیټو د علاقې او لیوالتیا اندازه درک کړي.

دغه موندنې د ننګرهار او هرات ولایتونو له ۱۴ سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو سره په ښاري او کلیوالو سیمو او ولسوالیو کې د ساحوي کار په پایله کې ترلاسه شوې دي.په دې اړه له دوه سوه ځوانانو سره ( د ځوانانو د فرعي کمیټو غړي او هم هغه ځوانان چې د کمیټو غړي نه دي) او همدارنګه، د ټولنې له مشرانو او نورو سیمه ییزو شریکانو سره مرکه شوې ده. د کیفیتي ډېټا ( Qualitative Data) مجموعه د شته سروري ډېټا په مرسته بشپړه شوې ده.

## کلیدي موندنې: د ځوانانو د مشارکت او ګډون د لارو چارو موندل

**د ګډون لپاره لارې چارې: دندې او کارونه**

**تر اقتصادي، وزګارتیا، نیمه وزګارتیا لګښتونو ور اخوا، په ښاري او کلیوالو سیمو کې د نارینه طبقې ځوانان ټولنیز لګښتونه هم له ځان سره لري. د** سروې موندنې ښيي، چې د نارینه وو او ښځینه وو په ګډون ټول ځوانان، تر نورو اندېښنو لکه زده کړه او بې وزلي، وزګارتیا د ځوانانو پر وړاندې تر ټولو عمده ستونزه بولي ( د اېشیا فونډېشن سرور ۲۰۱۷). دا چې ځوان نارینه د " ډوډۍ ګټلو" اخلاقي مسولیت په غاړه لري، د دغه مسولیت په تر سره کولو کې پاتې راتلل د هغوی د سرټيټې او د هغوی د عزت نفس د له منځه لامل کېدای شي. دغه مطالعه ښيي، چې څنګه ځوانان، د نارینه وو او ښځینه وو په ګډون، په مستقیمه توګه وزګارتیا نارینه له خپګان، کورنی شخړو، په نشه یي توکو روږدي کیدو، ټولنیز ضد چلندونو او جرمونو او همدارنګه حکومتي ضد احساساتو سره تړاو ورکوي.

**د باثباته او دومدارې دندې او کار پیدا کولو هیله هم په ښاري او هم په کلیوالو سیمو کې ډېره پیاوړې او په زورکې پاتې ده. په روانو شرایطو کې اوسنی پځې اقتصادي ودې ته په کتلو سره دا ناممکنه برېښي، چې دغه غوښتنه دې پوره شي، او له همدې امله د ځوانانو د مشارکت او ګډون د پیاوړتیا لپاره بدیلو میکانیزمونو ته اړتیا ده.** د دندې د تقاضا پوره کېدو لپاره، د نورو مواردو په ګډون، د اقتصادي ودې لنډمهال او اوږدمهال اغېزمن او ګټور اقتصادي سیاستونو په پلي کولو پورې اړه او تړاو لري. په عین حال کې، یو ریښتینی لرلید باید ډېری هغه ځوانان په پام کې ونیسي، چې ناممکنه ښکاري په لنډمهال او منځ مهال کې یوه دوامداره دنده یې پیدا کړای شي، او همدارنګه هغه کسان چې د دغه حالت په دوام سره د ناهیلی احساس کوي. په اوسنیو شرایطو کې، د ټولنیز انسجام پیاوړتیا ښایي بدیلو لارو ته اړتیا لري، چې د هغو له لارې ځوانان په ګټوره توګه په خپلو ټولنو کې دخیل کړو ( لکه داوطلبانه فعالیتونه). په ننګرهار کې، کلیوالو ځوانانو د وزګارتیا د اغېزو د کمولو لپاره د اروايي او ټولنیز اختلال د درملنې لپاره د ملاتړ غوښتنه مطرح کړه، که څه هم د دغه خدمتونو د وړاندې کولو لارې چارې باید له شته امکاناتو سره و ارزول شي.

**په کليوالو سيمو کې، لنډمهاله رغنيزې او د زيربناوو پروژې اړمنو کورنيو ته د عايد ترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي. د وړتيا محدوديت معنا دا ده، چې ټول ځوانان په دې پروژو کې نه شي شاملېدای. او دا پروژې لزوماً د ۲۵ کلنو ځوانانو يا تر هغو هم ځوانو کسانو ته خالي بستونه نه لري.** کليوالو ځوانانو مخکنيو ساختماني يا رغونو پروژو ته اشاره وکړه، چې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت (MRRD) او يا نورو سازمانونو ( د بېلګې په توګه په ننګرهار کې د سويډن کميټه) له خوا پلي شوې وې. د دغو پروژو د ډېرولو لپاره ډېرې غوښتنې شته. سره له دې، د دغو پروژو د لنډمهالتوب له امله، دا ډول نوښتونه په خپله د دې امکان نه لري، چې د ځوانانو د دوامداره او اوږدمهاله دندې او کارغوښتنې پوره کړي. پر دې سر بېره، د عدالت د تامين لپاره، يو شمېر پروژې ډېره پاملرنه کوي چې له هر کوره يوازې يو کس وټاکي. په کورنيو کې بين النسلي سلسله مراتبو ته په پام سره، ښکاره نه ده، چې کورنۍ خپل کشران ځوانان به دغو پروژو ته ور وپېژني، په داسې حال کې چې مشران ورونه يې هم دندې ته اړتيا ولري. کله چې عايد کور ته راځي، خالص اغېز يې ښايي د کورنۍ پر عايداتو، پرته له دې چې د کورنۍ کوم غړي ځان دغو پروژو ته انتخاب کړی، پر ټولو يو ډول وي ( ټول يو ډول ګټه ترې اخلي). سره له دې، کشران ځوانان ښايي د خپلو وړتياوو لوړولو فرصتونه او ځان ته د ارزښت ورکولو فرصتونه له لاسه ورکړي او محروميت يې لا ډېر شي.

**هغو ښځو ته چې د کار کولو هيله لري، ښځو ته د مناسب کار نه شتون يوه ستونزه ده.** دغه مطالعه د جندر هغو سيمه ييزو معيارونو ته جدي پاملرنه تاييدوي، خو دغه معيارونه د افغانستان په بېلابېلو برخو کې ډېر توپيرهم درلودی شي. د هرات ولايت د ولسواليو او کليوالو سيمو په پرتله د ننګرهار ولايت په کليوالو سيمو کې د ښځو پر تګ را تګ او کار ټولنيز محدوديتونه ډېر وو ( که څه هم هغه په دې ځای کې، هم مقاوم وو.) سره له دې، سربېره په دې چې شرايط او چاپېريال په پام کې ونيول شي، په اغلب ګمان داسې وو چې د ښځو پر کار نيوکه نه وه، بلکه د کار پر ماهيت او د تر سره کولو پر ځای يې نيوکه کېده. ښځو ته د مناسبو دندو او کار د پيدا کولو لارې چارې، چې هم خپله ښځې او هم يې کورنۍ پکې د هوساينې احساس وکړي، يوه ستونزه ده. د کليوالو ښځو د اقتصادي پياوړتيا (WEE-RDP) په څېر پروژې د ښځو د کارموندنې په اړه ښه خبر دی او په عين حال کې، د ټولنو د کنټرول لپاره د ښځو د کار په منظور مناسب چاپېريال د فزيکي ارزونې لپاره شرايط برابروي. دغه ډول پروژو ته ننګونې، د ځوانو نجونو مشارکت او ګډون هم په ددغو پروژو کې دی. هغه نجونو چې تر اوسه يې واده نه دی کړی، په ځينو ټولنو کې ښايي د ناموس د خوندي ساتلو د يوې هڅې په توګه، په تګ را تګ او مشارکت کې ښايي له ډېر محدوديت سره مخ شي.

## د مهارتونو د زده‌کړې او تعليم په وسيله اقتصادي مشارکت او ګډون ته د رسېدو لارې

**سره له دې چې په څو لسيزو کې د تعليم امکانات په کمه اندازه برابر شوي دي خو لا هم افغان ځوانان تعليم ته په زيات ټولنيز ارزښت قايل دي. دا موضوع تعليم ته د ځوانانو د «غوښتنو» د مطالعې په وخت کې بايد په پام کې ونيول شي – تعليم د دوی لپاره يوازې د کارموندنې وسيله نه ده.** تعليم د افغان ځوانانو په بيلابيلو قشرونو کې د پام وړ ټولنيزه پانګه توليدوي او د دوی لپاره وړيا او يا ارزانه تعليم (له سب سايډ سره) خورا ارزښتمن دی. د تعليمي اسانتياوو (ثانوي زده کړو او حرفه‌يي زده‌کړو) نشتوالی يو له هغو عواملو څخه دی چې کليوال ځوانان د «وروسته پاتيوالي» احساس کوي. که واقعيتونو ته وګورو نو سيمه‌ييز عاملونه د تعليم په دواړو سطحو يعنې ثانوي او ثالثي دورو کې د ځوانانو مشارکت محدودوي، ان په هغو ځايونو کې چې تعليم ته لاسرسی هم ممکنوي. دا چې هلکان ښوونځی له وخته مخکې پرېږدي، هم دليلونه يې دا دي: غريبي، د کورنۍ ملاتړ ته اړتيا او د کورنۍ لاسنيوي ته مجبوريت (لاندې معلوماتي سرچينه وګورئ).[2] خو د نجونو لپاره د مکتب د پرېښودلو په دليلونو کې جنسي معيارونه، په تېره بيا شرم او له وخته مخکې واده شامل دي او غريبي بيا د دوی او هلکانو لپاره ګډ دليل دی. مکتب ته د تګ راتګ پر مهال او همدارنګه په مکتب کې د اوسېدو په وخت کې امنيتي ننګونې هم د دې ستونزې يو مهم عامل دی.[3] د دې لپاره چې ځوانان مکتب ويلو ته ادامه ورکړي، بايد له ټولنو سره د جندر د معيارونو د بدلون په برخه کې کار وشي، د لويانو لپاره د زده کړې تبليغ او ترويج وشي او فقر او غريبي راکمه شي.

**د بېسواده ځوانانو او هغو ځوانانو لپاره چې د فراغت د سند تر اخیستلو مخکې یې ښوونځی پرېښی دی، د غیردولتي سازمانونو (انجیو ګانو) له لوري د مسلکي مهارتونو د زده‌کړې برابرول کولی شي هغه تشه چې د زده کړو لپاره د دوی په هیلو کې رامنځته شوې ده، ډکه کړي او دا په کلیوالو ځوانانو کې د مهارتونو د پراخولو تر ټولو واقعي او ربښتینې لاره ده.** داسې ښکارېده چې د دې ډول کورسونو د زیاتېدو غوښتنه دې زیاته وي. د دې ډول بریالیو کورسونو نمونې، د شاتو مچیو د ساتلو، د پنیر جوړولو، او د موبایل د ترمیمولو کورسونه دي. دا رپوټ یې راښیي چې دغه کورسونه کولی شي پر ځان باور رامنځته کړي او ځوانان له خپل وخته ګټه او خوند واخلي. خو د دې کورسونو لپاره تقاضا خامخا دا معنا نه لري چې ګواکې په دې برخه کار کولو ته به اوږد مهاله لېوالتیا وي او یا نتیجو او محصولاتو ته یې په سیمه کې تقاضا وي. ګومان شته چې چې اکثره دغه کورسونه ذاتاً انعطاف منونکي نه دي او د کلیوالو ټولنو د اړتیاوو سره سم ندي طرح شوي. جدي اړتیا لیدل کېږي چې یو شمېر ځانګړي کورسونه د سختو مهارتونو د زده کړو لپاره طرح او عملي شي، هغه هم داسې چې له دې مهارتونو څخه ځوانان د عاید د ترلاسه کولو او د سیمه‌ییز اقتصاد د ودې لپاره ګټه واخلي. کلیوالو ځوانانو ته د خدمتونو په رسولو کې اوسنیو محدودیتونو په پام کې نیولو، ویلی شو چې په ټولنې پورې د اړوندو مهارتونو لندمهاله زده‌کړې به کلیوالو ځوانانو ته د مهارتونو د انتقال لا باوري لاره به وي، خو د دې لپاره چې د دې پروګرامونو په اغېزمنتیا ډاډه شو، پر شواهدو ولاړې تګلارې په کار دي.

**د ښاري زده کړی کړو ځوانانو د بې‌کاری د تناسب لوړه اندازه دا را ښیي چې حرفه‌یي او تخنیکي زده‌کړې (TVET) او لوړې زده‌کړې ځوانانو ته په کاري چاپیریال کې د جذب او کار کولو آسانتیاوې نه برابروي، نو ځکه افغان ځوانان له دې اړخه د ناهیلی او ناکرارۍ احساس کوي.** په داسې حال کې چې د تعلیم او زده کړو کچه د هغې دندې په ټاکلو کې چې ځوانان ورته مخه کوي، اغېزه لري خو تعلیم خامخا د ښې دندې د موندلو ښه وړاندویونکی نه دی او د تعلیم په ټولو کچو کې د بېکارۍ اندازه سره نژدې ده. دا مطالعه یې راښیي داسې پوخ باور شته چې د ځینو خاصو دندو تر لاسه کول، په تېره بیا په عامه او دولتي سکتور کې، «روابط او واسطه» غواړي. سره له دې چې د دندې لټولو یو څو محدودې مراجع شته، چې عمدتاً په دولتي سکتور پورې ځانګړي دي خو بیا هم د افغانستان زیاتره ځوانان د خپلو ټولنیزو اړیکو له لارې په کاري فرصتونو خبرېږي. دا خبره په داسې شرایطو کې چې کاري فرصتونه محدود دي، کولی شي د فساد د موجودیت اټکلونه تحریک کړي.

**د خیاطی او د کور په کارونو پورې د نورو اړوندو کورسونو تقاضا په کلیوالو او ښاري ښځو کې زیاته ده، خو بدیلونه یې کم دي.** د دې کورسونو اسانتیا او امتیاز دا دی چې په آسانی سره په کورونو کې ترسره کېږي او له هغو ټولنیزو محدودیتونو سره اړیکه نه لري چې له کوره بهر د ښځو پر فعالیتونو لګېدلي دي (په هغو ځایونو کې چې دا مسأله مهمه ده). همدارنګه دا کارونه د کور له چارو سره یو ځای په آسانی سره ترسره کېدای شي. لا هم معلومه نه ده چې د داسې کورسونو برابرول دې پروګرام ته د مېرمنو تقاضا څومره هڅولې ده، په تېره بیا د کلیوالو مېرمنو چې لږ بدیلونه یې لري. پر دې سربېره، دغه کورسونه به خامخا په عاید لرونکو چارو کې د مېرمنو د ګډون پر هڅولو مطلوبه اغېزه ونه لري، ځکه چې ځینې مېرمنې په دې پروګرامونو کې ځکه برخه اخلي چې زده کړي مهارتونه په خپل کور کې د خپلې کورنۍ لپاره وکاروي.

[2] د نړیوال بانک، ۲۰۱۹. افغانستان: د افغانستان په سختو شرایطو کې د پوهنې لوړاوي

[3] پورته اخځ لیک. د پوهني وزارت، د افغانستان اسلامي جمهوري، د ملګرو ملتونو سازمان د ماشومانو صندوق (UNCEF) او ساموئل هال، ټول په ښوونځي او زده کړه کې: له ښوونځي د باندې ماشومانو لپاره نړیوال نوښت – د افغانستان هیواد مطالعه، د پوهې وزارت، UNCEF، ساموئل هال او د امریکا متحده ایالتونو پراختیایي اداره (USAID)، کابل ۲۰۱۸.

## مشارکت ته د رسېدو لارې: غړو اوچتول او ګډون

**ان که فرصتونه وي هم، کېدی شي ځوانان يې د لاسرسي ځواک ونه لري او يا که لاسرسي هم ورته ولري، بيا به هم زيان منونکي پاتې شي.** د کورنۍ چارچاپېره غښتلي ټولنيز تشکيلات چې د ټولنيز ملاتړ د میکانیزمونو له نشتوالي سره یو ځای شي، معنا يې دا ده چې اکثره افغانان د خپلې اجتماعي او اقتصادي بقا لپاره په اجتماعي شبکو پورې تړلي دي. په دې برخه کې به په تېره بيا ځوانان زيات زيان منونکي وي، ځکه چې هغوی به لا هغه مالي او اجتماعي پانګه نه وي ترلاسه کړې چې په خپلې ټولنيزې شبکې کې نفوذ وکړي او يا له هغوی څخه په خپلواکۍ سره عمل وکړي. ښايي دا به حيرانونکې نه وي چې زياتره هغه ځوانان چې په دې څېړنه کې ورسره مرکه شوې ده، د خپلو هیلو د پوره کولو لپاره، پر اقتصادي محدوديتونو سربېره، «د کورنۍ ملاتړ» او د «کورنۍ اجازه» خورا مهم ګڼلي دي. دې څېړنې د بين النسلي ټکرونو ځينې ډګرونه په ډاګه کړل:

- **په زده کړو کې ګډون:** څرنګه چې ډېرو نورو څېړونو يې هم ښيلي دي، د جندر معيارونه او اقتصادي ستونزې د زده کړو په لاره کې، په تېره بيا تر ابتدايي دورې پورته د تعليم د ادامې په لاره کې اساسي خنډونه او محدوديتونه دي. خو بيا هم په دې څېړنه کې وينو چې تر ټولو زيات بين النسلي ټکرونه د تعليم په برخه کې دي او دا راښيي چې مختلف نسلونه تعليم ته په متفاوت ارزښتونه قايل دي. ځيني ځوانان په دې باور وو چې کورنۍ يې په آسانۍ سره نه حاضرېږي چې له خپلې هغې هوساينې تېرې شي چې که دوی ته د تعليم اجازه ورکړي، نو بچيان به يې له لاسه وځي.
- **د ټولنې د ځوانانو په ډلو او نورو سازمانونو کې ګډون:** کېدی شي کورنۍ په دې ډلو کې د ځوانانو د ګډون د ګټورتوب په اړه ځينې ملاحظې او کتنې ولري. کورنيو په ځينو موردونو کې د ځوانانو ځينې فرعي کميټې «غير اسلامي» ټولنې يا د وخت ضايع کوونکي ګڼلي وې. د ټولنيز قدرت د نورو جوړښتونو په مقابل کې د بغاوت او سرغړونې يا لوبې کولو لپاره د دغو ډلو بالقوه توان دغه ستونزه لا سختولی شي.
- **په ټولو يادو شويو ډګرونو کې د ښځو ګډون:** ان په هغو موردونو کې چې کورنۍ د نجونو د زده کړو په ارزښت پوهېږي هم، له «شرمه» وېره مېرمنو ته د ګډون د اجازه ورکولو تمايل محدودولی شي. همدا خبره له کوره بهر د مېرمنو د کار کولو په برخه کې هم سمه ده. د مرکو مندرج معلومات دا راښيي چې که د ټولنې د پيغور خبره نه وي، ځيني کورنۍ غواړي چې خپلو مېرمنو ته د مشارکت او ګډون اجازه ورکړي. دا مسأله دوې ننګونې راښيي: لومړی، د تعليم، کار او ټولنيز مشارکت د داسې مناسب چاپېريال برابرول چې د ځوانو مېرمنو او د هغوی د کورنيو لپاره د منلو وړ وي. دوهمه، په دې ډګرونو کې د مېرمنو د ګډون په اړه په ټولنه کې د شرم د کمولو لارې پيدا کول، چې دا کار په ځينو سيمو کې ګټور ثابت شوی دی.

**افغان ځوانان پر دولتي ادارو لږ باور لري، خو چېرې چې دولت سم کار کوي، دوی هم ورته مثبت ځواب ورکوي.** دا څېړنه د هغې سروې معلومات تائيدوي چې وايي پر دولتي ادارو د اعتماد اندازه لږه ده (ايشيا فونډېشن ۲۰۱۷). يو شي چې کليوال ځوانان ادعا کوي چې د ښاري ځوانانو په نسبت د دوی پر حق سترګې پټېږي، هغه په کليو کې د زېربناوو لږ انکشاف دی. د زېربناوو، زده کړو او د دندې د برابرولو په برخو کې د «دولت ملاتړ» ته اړتيا بيا بيا ياد شو.

## مهمې موندنې: د ځوانانو د فرعي کمېټو ارزونه

**د ځوانانو د فرعي کمېټو (او د سیمه‌ییزو پراختیايي شوراګانو) لپاره متفاوتې عملیاتي لارې چارې**

**د ځوانانو د فرعي کمېټو رسمي کړنلارې پراخې دي، چې په سیمه‌ییزه کچه یې د ځوانانو د فرعي کمېټو د هدفونو او فعالیتونو د ټاکلو لاره خلاصه پرېښې ده.** د فرعي کمېټو مسوولیتونه د افغانستان د ولسي تړون پروژې په ښوونیزه روزنیزه او عملیاتي تګلاره کې د دندو په یوه جلا لایحه (ToR) کې بیان شوي دي. د سیمې د پراختیایي شوراګانو د نورو فرعي کمېټو برخلاف، د ځوانانو فرعي کمېټې ته د افغانستان د ولسي تړون پروژې تر چتر لاندې د کومو ځانګړو خدمتونو د حاصلولو، مدیریت او څارنې دنده نه ده ورکړل شوې. د دوی اصلي کار عمدتاً د ټولنې غوښتنو ته سم ځواب ویل او یا د سیمې د پراختیايي شورا له نورو فرعي کمېټو سره مرسته ده. همدارنګه له دوی څخه غوښتل کېږي چې «د ټولنې د پرمختګ او د اړمنو په ګټه په پراختیا کې ګډون» لپاره د عمل پلان جوړ کړي. په داسې حال کې چې دغه د عمل پلان په نظري ډول د ځوانانو فرعي کمېټې ته د ځان د وړپېژندلو امکان برابروي، خو دا چې دا کمېټه د افغانستان د ولسي تړون له پروژې څخه امر او هدایت نه اخلي نو د سیمې په کچه (په ټوله کې د سیمې د پراختیايي شورا، په ټولنه کې د نفوذ لرونکو کسانو او د بین النسلي حرکتونو په ګډون) نورو ته هم لاره خلاصه پرېږدي چې تعریف یې کړي. په څو کلیوالو سیمو کې چې کتل شوې دي، د ځوانانو فرعي کمېټو هڅه کړې ده چې خپل فعالیتونه نورو کمېټو ته د مرستندوی تر نقش هاخوا واړوي او پراخ یې کړي او نورې کمېټې یو مخ غیر فعالې وې.

**په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ځوانانو د فرعي کمېټو د عملیاتي شرایطو او لارو چارو تر منځ توپیرونه ښکاره کېدلی شي.** کلیوالې سیمه‌ییزې شوراګانې د هغو ښاري سیمو په پرتله په داسې برخو کې کار کوي چې هلته د وګړو تراکم لا کم دی، ټولنې سره ورته والی او همغږي لري او ټولنیزې اړیکي یې غښتلي دي. پر دې سربېره، د سیمه‌ییزو پراختیايي شوراګانو ټولنیز سرحدونه د ښاري سیمو په نسبت لا څرګند پېژندل شوي ټولنیز سرحدونه یا سره ورته (ټولنې) دي.[4] دا خبره مهمه ده چې په دې څېړنه کې د کلیوالو د ځوانانو د بیلابیلو فرعي کمېټو د فعالیتونو او ظرفیتونو ترمنځ تنوع، د ځوانانو د کلیوالو او ښاري فرعي کمېټو د تنوع او جلا والي په نسبت لا زیاته لیدل شوې ده. نو د سیمه‌ییزې کچې عاملونو ته باید په لومړي ګام کې پام وشي. نو د ښاري او کلیوالو ځوانانو د فرعي کمېټو تر منځ پراخ توپیرونه شته چې دا توپیرونه د ځوانانو د کمېټو د کارونو پر وړاندې مختلف خنډونه او فرصتونه ګڼلی شو.

- **د مشارکت او همکارۍ لپاره انجیوګانو او نورو سازمانو ته لاسرسی:** دغه سازمانونه دې ته لېواله دي چې په ارونو کې دې وي نوځکه د ښارونو په پرتله په کلیوالو سیمو کې چنداني ډېر نشته. د دې څېړنې موندنې راښیي چې که څه هم د ښارونو د ځوانانو په فرعي کمېټو کې چې د دې کمېټو او نورو سازمانو تر منځ د شبکې غځولو امکانات لا زیات دی، بیا هم د دې کمېټو ټولو غړو له نورو سازمانو سره د مشارکت او ګډون په لټه کې سره یو شان نوښتونه نه دي عملي کړې، سره له دې چې دوی دغو سازمانو ته نژدې هم دي. د کلیوالو سیمو د ځوانانو د فرعي کمېټو غړي سره له دې چې له نورو سازمانو څخه لرې دي، خو بیا یې هم په ځینو وختونو کې له دې سازمانو سره د اړیکو او مشارکت په جوړولو کې لا زیات کارونه ترسره کړي دي. پر دې سربېره، سیمه‌ییز عوامل او لاملونه به له دې ډول سازمانو سره د مستقیمو اړیکو په جوړولو کې د کلیوالو سیمو د ځوانانو د فرعي کمېټو ظرفیت محدود کړي؛ ځکه چې په ډېرو موردونو کې دغه سازمانونه په لومړي پړاو کې د سیمې د پراختیايي شورا، حکومت یا د سیمې د ځواکمنو کسانو له لارې ټولنې ته لاسرسی مومي. د کلیوالو سیمو د ځوانانو فرعي کمېټې دې ته سترګې په لار وې چې د سیمې د پراختیايي شورا د جوړښت له لارې به ورسره «اړیکه جوړه شي» او په ټوله کې د سیمې په پراختیايي شورا پورې تړلې وې.

[4] د افغانستان د ولسي تړون پروژې عملیاتي لارښوونې د دغه توپیرونو یو شمېر، چې د پراختیايي شوراګانو پر فعالیتونو پلي کېږي، وړاندوینه کوي. په هر صورت، دا توپیرونه پر فرعي کمېټو په مستقیمه توګه نه پلي کېږي.

- **د ځوانانو له نورو کمیټو او د ځوانانو له ټولنو سره تعامل:** دې څېړنې وموندل چې د ښاري سیمو د ځوانانو د فرعي کمیټو او د ځوانانو د ځنګلوریو کمیټو او د ځوانانو د ټولنو ترمنځ لا منظمې اړیکي شته. دا خبره له دې ګڼلی شو چې دوی نسبتاً سره نژدې دي او همدارنګه هلته د ټولنو تر منځ څرګندې پولې نشته، چې دا بیا په دوی کې د ګډو ګټو د رامنځته کېدو سبب کېږي. د کلیوالو سیمو د ځوانانو زیاتره فرعي کمیټې چې څېړل شوې دي، د ځوانانو له ځنګلوریو کمیټو سره یې فعاله همکاري نه درلوده (سره له دې چې په عین کلستر کې به وې). د کلیوالو سیمو د ځوانانو کمیټې د دا ډول مشارکتونو په جوړولو کې د واټن پر مسألې سربېره، له لوژستیکي محدودیتونو سره هم مخامخې دي. ناامنی او جګړې هم ځنګلوریو ټولنو ته د نارینه‌وو او ښځو سفر محدودولی شي. همدارنګه د ښځو پر تګ راتګ بندیزونه به یو بل محدودیت وي.
- **په ټولنه کې مطرح والی:** ان په کلیوالو سیمو کې چې مرکه شوې کسانو، د ځوانانو د فرعي کمیټو او له کمیټو پرته ځوانانو په ګډون، د ځوانانو د فرعي کمیټو د ټیټې کچې له فعالیتونو څخه راپور ورکړی، له کمیټو پرته ځوانانو په ښارونو کې د ځوانانو د فرعي کمیټو په پرتله د ځوانانو د فرعي کمیټو په اړه ډېر څه اورېدلي وو ( که څه هم دغه موندنه کېدای شي ډېره وازمایل شي). له یوې خوا، د کمیټو د ډېر مطرح کېدل په کلیوالو سیمو کې د ځوانانو د فرعي کمیټو له لارې د ځوانانو د یو موټی کولو یو ښه فرصت برابروي. له بلې خوا، د ځوانانو د فرعي کمیټو ډېر مطرح کېدل، ( او تر هغه ور آ خوا، سیمه ییزې پراختیایي شوراګانې) کولی شي ستونزې او خنډونه ډېر برجسته کړي. دغه مسئله په ځینو کلیوالو سیمو کې چې د ځوانانو فرعي کمیټې د "غیر فعال‌والي"، "بې ګټې‌والي" یا "غیر اسلامي‌والي" له امله یې سپکاوی شوی و، ډېره څرګنده وه.

- **د ټولنې قدرت په ډینامیکونو کې موقعیت نیول او پر وړاندې یې تدبیرونه:** په ټولنه کې د بین النسلي قدرت ډینامیکونه د ځوانانو له فرعي کمیټې څخه د غړ پورته کولو او استازولۍ صلاحیتونه واخلي. په داسې حال کې چې دا پدیده د کلیوالو ځوانانو په فرعي کمیټو پورې محدوده نه ده؛ خو په هغو کې تردېره یو څه برجسته او مطرح ده. دا موضوع په هغو مواردو کې په کلکه مطرح کېږي، چې بودیجه او نور امکانات، د جلسو د تر سره کولو لپاره د ځایونو په ګډون، له نورو څخه وغوښتل شي؛ د بېلګې په توګه، د جلسو لپاره ځای یا د فعالیتونو بودیجه.

**د ځوانانو د فرعي کمیټو د یو موټی کولو وړتیاوې د سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو د نفوذ په کچې پورې تړلې دي. له همدې امله، په متفاوتو ټولنو کې توپیر درلودی شي.** د یوې سروې موندنې او ارقام ښیي، چې که نږدې ۵۸ سلنه افغانان وایي، چې په سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو باور لري ( ایشیا فونډېشن ۲۰۱۷). دې ټکي ته په کتو، چې سیمه ییزې پراختیایي شوراګانې په دې وروستیو کې د یوه ارګان په توګه دي، دغه ارقام ډېر هیله ښونکې دي. پر دې سر بېره، د بېلابېلو ټولنو ترمنځ باید د پام وړ توپیر هیله ولرو، ځکه د بېلابېلو سیمو خلک ښایي به بدیلو ادرسونو ( او په ډېر احتمال سره په سیالی او رقابت کې) باور ولري. په دغه ادرسونو کې د کلي مشران، ملکان، ملا امامان او یا نور سیاسي څېرې شاملېدای شي. پر دې سربېره، په سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو "باور" په مستقیمه توګه د مشارکت لپاره د توانمندی یا له هغه ارګان څخه د ښکاره ملاتړ په معنا او مفهوم نه ده، د بېلګې په توګه، د انتقام اخیستو له وېرې پرته.

د نسلونو ترمنځ د واک او قدرت ډینامیکونو ته په کتو، ځوانان ښایي په دغه ډول مشارکتونو کې له ډېرو محدودیتونو سره مخ وي. د ځوانانو د فرعي کمیټو له خوا د ازمایښت او د پرمختیایي پروژو د پلي کولو په پړاوونو کې، ډېر اغېزمن به وي چې هغه سیمه ییزې پراختیایي شوراګانې وپېژندل شي، چې یو څه بنسټیز جوړښت لري او په هغه ځای کې پر مشارکت سیمه ییز محدودیتونه ډېر نه وي. دغه کار د افغانستان د ولسي تړون پروژې د تسهیل کوونکو شریکانو ( Facilitating Partners) او ټولنیزو سازمانانو (SOs) په همکارۍ تر سره کېدای شي.

ظاهراً داسې ښکاري، چې د ځوانانو ځینې فرعي کمیټې د ځینو نورو په پرتله له ښو اسانتیاوو برخمنې کېږي. پر بېلابېلو موخو سربېره، د ځوانانو فرعي کمیټو د سازمان ورکولو بېلابېلې کچې، د غونډو شمېر، له سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو

سره همکاري، ټول شمولیتتوب ( په ځانګړې توګه د ښځو په برخه کې) او د غړیتوب دوام یې د لاسته راوړنو په توګه ننداري ته وړاندې کړي. د هر ولایت د کلیوالو سیمو په منځ کې او په ځانګړې توګه په ننګرهار ولایت کې ښکاره توپیرونه ولیدل شول. د ټولو فرعي کمیټو په څېر، د ځوانانو فرعي کمیټې د خپلو فعالیتونو په لومړیو درېو کلونو کې د تسهیل کوونکو شریکانو له ملاتړ او فعال نظارت او څارنه څخه برخمنې کېږي. ښځینه او نارینه ټولنیز کارکوونکي مکلف دي، چې د ټاکنو لپاره لازې چارې برابره کړي او وروسته په لومړي کال کې په هره میاشت کې دوه ځلې و، خو تر هغه وروسته په دویم کال کې په هره میاشت کې یو ځل باید له ټولنو څخه لیدنې وکړي. دغې مطالعه د دې مرستو د کچې ارزونه و نه کړه؛ خو پر دې سربېره ځینو ټولنو ته د ټولنیزو کارکوونکو ( په ځانګړې توګه د ښځینه ټولنیزو کارکوونکو) د لاسرسي پر وړاندې محدودیتونه ښکاره دي. له تسهیل کوونکو شریکانو سره خبرې اترې ښایي د ځوانانو فرعي کمیټو د عملیاتو پر وړاندې په سیمه ییزه کچه د محدودیتونو د پېژندلو او توپیر کولو او د اسانتیا برابرولو په بهیر کې د کمبودیو په برخه کې مرسته وکړي.

**د ځوانانو د فرعي کمیټې د دندو لایحه د ټولنې په کچه ټول شموله ده. دا چې د ځوانانو فرعي کمیټې تر کومه اندازې د ځانګړو ګټه اخیستونکو په توګه پر ځوانانو تمرکز کوي، د سیمه ییزو پراختیایي شوراګانو د واک او صلاحیتونو په چوکاټ کې د دوی پر عملي کارونو پورې تړلې موضوع ده.** د ځوانانو فرعي کمیټې تر کومه ځایه چې لیدل کېږي په یو ردیف کې نه دي: د ځوانانو فرعي کمیټې یا ټولنې محوره او یا هم ځوانان محوره دي ( او یا هم دواړه) دي. د ځوانانو فرعي کمیټه د یوې داېمني مرجع په توګه د ځوانانو د پیاوړي کولو لپاره کار کوي او یا نور ځوانان په ټولنه کې رایوځای او یو موټی کوي. دې مطالعې وموندل، چې د کلیوالو ځوانانو فرعي کمیټې تر ډېر بریده خپلو موخو ته په ټول شموله نظرهګوري او دا رول یې د سیمې پراختیایي شورا له خوا پیاوړی کېږي. په همدې حال کې، د ښاري ځوانانو فرعي کمیټې تر ډېره بریده ځوانان د خپلو کارونو اصلي ګټه اخیستونکي بللي. لکه څنګه چې پورته یې یادونه وشوه، دا ښایي له بېلابېلو عملیاتي شرایطو سره، چې کمیټې هلته کار کوي، تړاو ولري.

**په هغه ځای کې چې د ځوانانو فرعي کمیټو، ځوانان د خپلو کارونو د ځانګړې ګټه اخیستونکو په توګه پېژندلي و، د هغوی هیلې په لویه کچه د زده کړو او دندې په محور کې مطرح شوې. د وړتیاوو په پرتله یې هیلې په ښکاره توګه زیاتې وې.** د کلیوالو او ښاري ځوانانو څو کمیټو د زده کړو او د کار په ساحه کې د روزنې فرصتونه، لکه د موبایل تلفون جوړول او یا خیاطي ( د ښځو لپاره) په جوړولو سره د لوړې کچې نوښتونه ننداري ته وړاندې کړې. داسې ښکاریده چې دغه نوښتونه په ښاري سیمو کې چې سرچینو ته لاسرسی ډېر دی، ډېر بریالي و. په هر صورت، د ښاري او کلیوالو ځوانانو د فرعي کمیټو ترمنځ قوي لیدلوری شته، چې "بهرنۍ" مرستې، د دولت او یا غیر دولتي موسسو ( انجیوګانو) لخوا، د ځوانانو د دغه دوو موخو د لاسته راوړلو لپاره اړینې دي. په کلیوالو سیمو کې، د دندې اسانتیا په هغه وخت کې چې پرې بحث کېده، روز مزد کارګران د هغو پروژو لپاره وو، چې د سیمې پراختیایي شوراګانو له لارې سیمې ته راوړل شوې وې.

**د یو هدف په توګه له استازولۍ یا د ځوانانو له پیاوړتیا څخه لږه یادونه شوې وه، په داسې حال کې چې په ځینو سیمو کې په هراړخیزه توګه پرې ټینګار شوی و** 'د ځوانانو د غړ پورته کولو' مسئله یا د خپلو ټولنو د ښه او ګټورو غړو په توګه د هغوی تشویق او هڅونه، په څو ځایونو کې مطرح شوه. په ښاري سیمو کې، کله کله دغه هیله او ارمان، لکه څنګه چې ښکارېده، د فعالو ځوانانو فعالیت دی، شریک او هم سرحد و ( د بېلګې په توګه، له دولتي چارواکو سره د جلسو له لارې یا تبلیغاتي/ کمپاینې فعالیتونه). محدودو نمونو ته په کتو، دا مطالعه د دغه ارمان په اړه کلیوال/ ښاري مډل یا طرحه په قطعي توګه نه شي توضیح کولی. په هر صورت، په واقعیت کې سیمه ییزې لارې چارې او شرایط د ځوانانو د غړ او هیلو اورېدلو کچه معلوموي او ټاکي.

## د ځوانانو د فرعي کمیټو پراخوالی

**د ځوانانو د فرعي کمیټو د دندو لایحه د جندر له نظره متوازنه نده، چې په همدې دلیل د ښځو پر مشارکت اول منفی اغېز درلودی شي.** د افغانستان د ولسي تړون پروژې د دندو لایحې په لارښوونو کې ډېر تمرکز په ټولنه کې پر فزیکي فعالیتونو دی او پر ځوانانو یوازینی متمرکز ټکی د سپورټي ټیمونو جوړول دی. د ښځو د تحرک پر وړاندې محدودیتونو ته په کتو، د دې ټکي معنا دا ده، چې تر ډېره د نارینه‌وو په ګټه ده نه د ښځو. هغو فعالیتونو ته مراجعه نه کول، چې یوازې یې ښځې تر سره کولی شي په دې معنا او مفهوم دی چې د ځوانانو فرعي کمیټو ښځینه غړي د مسولیتونو کومه ځانګړې برخه نه لري. د ننګرهار ولایت په ځینو سیمو کې، د نارینه‌وو فرعي کمیټې یو څه زیاتې فعالې وې، په داسې حال کې چې د ښځینه‌وو فرعي کمیټې په لویه کې د غیر فعالو کمیټو او سیوري په توګه وې. په همدې حال کې، په دواړو ولایتونو کې د ځوانانو تر ټولو فعالو فرعي کمیټو د جندر پر بنسټ یې د کار وېش نندارې ته وړاندې کړی و، د بېلګې په توګه، د ښځو تمرکز پر داخلي فعالیتونو یا نورو هغو فعالیتونو و، چې د ښځو په ګټه وو. دغه مسئله دا روښانوي، په هغو ځایونو کې چې ښځو ته مناسب مسولیتونه او ملاتړ موجود وي، د ښځو د مشارکت او ګډون لپاره ښه زمینه برابره ده.

**د ځوانانو فرعي کمیټو د ښځینه غړو دغه ادعاوې، چې نارینه هغوی ته غوږ نه نیسي په تکراري توګه مطرح شوې. د جندر تر معیارونو ور آخوا، دغه مسئله د همغږۍ محدودیتونو او د غونډو ستونزو ته نسبت ورکولی شو.** د ځوانانو فرعي کمیټو نارینه او ښځینه غړي ډېر تمایل او لیوالتیا لري، چې په جلا جلا توګه غونډې وکړي ( دا میتود په ننګرهار او د هرات ولایت په ډېرو کلیوالو سیمو کې معمول و). په ځینو ټولنو کې، د ځوانانو فرعي کمیټو ښځینه غړو د دوه اړخیزو اړیکو ټینګولو لپاره یو شمېر میکانیزمونه جوړ کړي وو، د بېلګې په توګه، ښځو د کمیټې له نارینه غړو سره د اړیکې ټینګولو لپاره یوه استازې ټاکلې ده. نورو ښځو مور ته خبر را کړ، چې د خپلو نارینه خپلوانو له لارې د کمیټې له نارینه غړو سره اړیکه ټینګوي. په داسې حال کې چې نارینه محرم د "فلتر" په توګه کار کولی شي، په دې توګه د ښځو پر رول ضعیف کوونکی اغېز درلودی شي. د ځوانانو فرعي کمیټې د ښځینه غړو لپاره د دې محدودیت یوه حل لاره له ښځینه ټولنیزې کارکوونکې سره اړیکه نیول ده، چې هغه کارکوونکې له نارینه ټولنیز کارکوونکي سره اړیکه نیسي او وروسته بیا نارینه ټولنیز کارکوونکی د ځوانانو فرعي کمیټې له نارینه غړو سره اړیکه نیسي. روښانه نه ده، چې ایا ښځې په دې میکانیزم باور لري او که نه؟ په هر صورت، د ځوانانو فرعي کمیټې د خپلو فعالیتونو له پیل څخه یوازې لومړنیو درېیو کلونو لپاره له خپلو تسهیل کوونکو شریکانو څخه نظارت او فعال ملاتړ ترلاسه کوي. له همدې امله، په راتلونکې کې د ځوانانو فرعي کمیټې د نارینه او ښځینه غړو ترمنځ د همغږۍ ستونزې د حل لپاره یوې دوامدارې حل لارې ته اړتیا لیدل کېږي.

**د ځوانانو فرعي کمیټې باید یوازې له "ځوانانو" جوړې شي. له تعریف سره سم دغه کسان باید له ۱۸ څخه تر ۳۵ کلونو عمرونه ولري. په دې ترکیب کې د عمر پر بنسټ د ځوانانو ډېر وېش نشته.** د ځوانانو په فرعي کمیټو کې د غړیتوب لپاره د عمر محدودیت ۱۷ کاله دی. د دې سني محدودې په ټوله کې، له واده له نظره، د ماشومانو د شمېر، دنده او ټولنیز موقعیت، د دغو کمیټو د ځوانو او مشرانو غړو په وضعیت کې د مهمو توپیرونو په توګه بلل کېدای شي. دغه عمري محدودیت په سیمه ییزې پراختیایي شوراګانو کې د غړیتوب لپاره هم منعکس شوی دی – هغه ځای، چې ډېری غړي یې له تخنیکي نظره هم "ځوانان" دي. د مرکو ترلاسه شوي معلومات او موندنې هم دا نه ښيي، چې واده او اولاد درلودل دې د ځوانانو په فرعي کمیټو کې د مشارکت پر وړاندې د پام وړ خنډ وي.[5] نو ځکه، داسې نه ښکاري چې د ځوانانو په فرعي کمیټو کې دې د مشارکت لپاره د عمر کومه مشخصه محدوده (واده) موجوده وي. له ځایه چې د ځوانانو فرعي کمیټې د دندو په لایحې کې د ځوانانو ډېرو ډلبندیو ته اشاره نه ده کړې، نو ځکه د ځوانانو په فرعي کمیټو کې د نسلونو ترمنځ د ډینامیکونو په وړاندې، د کشرانو ځوانانو د غږ له اورېدو څخه د ډاډمنتیا لپاره د میکانیزمونو په ګډون؛ هیڅ محافظت او خوندیتوب نشته. دا چې د ځوانانو فرعي کمیټې لخوا هر ډول پلان شوې مداخله د ځوانانو د یوه ځانګړي عمر لپاره په پام کې نیول کېږي ( د بېلګې په توګه ۱۵ – ۲۴ کلونو)، اړیتا ده، چې د هماغه مداخلې (پروژې) په طرح کولو کې دا مسئله په ښکاره توګه تشریح شي.

[5] په اوسنی نمونې کې د ځوانانو د فرعي کمیټې ۸۴ غړي شامل دي: ۴۰ سلنه یې واده کړي او یا کوژده کړي و، چې د نارینه‌وو او ښځینه‌وو ارقام یې کې مساوي و. د ځوانانو په فرعي کمیټې کې د واده د اغېز د تایید لپاره یوې لویې تصادفي نمونې ته اړتیا ده.

**دې څېړنې په حیرانوونکي توګه د ځوانانو په فرعي کمیټو کې د ممتاز ځوانانو پر لږ شمېر اندېښنه وړاندې کړې، چې کیدای شي د کمیټو باندې ځوانانو ته پاملرنه وشي.** د ټولو فرعي کمیټو په څېر، د ځوانانو فرعي کمیټې هم له خپلې ټولنې څخه د استازولۍ له پاره طرح شوې دي. په عین حال کې، د ټاکنو بهیر چې د افغانستان د ولسي تړون پروژې په لارښوونو کې تشریح شوې ده، اوږدمهاله مشارکت او ګډون نه تضمینوي. د ځوانانو په فرعي کمیټو کې چې له هغو څخه لیدنه شوې ده، تر لومړنۍ پړاو ټاکنې وروسته، غړیتوب او مشارکت کولی شي، د کاري ژمنو یا د شخصي ګټو نشتون له امله وغځول شي یا پرې شي. له همدې امله یو شمېر معقول وړاندیزونه هم شته، چې د ځوانانو فرعي کمیټې دې باید له هغو ځوانانو جوړې شي، چې دنده نه لري او یا هم په بله وینا چې ډېر بوخت نه دي. هغه عملي خنډونه چې ځوانان د ځوانانو په فرعي کمیټو کې له غړیتوب څخه پاتې کوي او یا هغوی د غړیتوب له دوام څخه بې برخې کوي، د ځوانانو د فرعي کمیټو واقعي استازولۍ تر اغېز لاندې راوستی شي. په هر حال، تر هغه وخته چې مناسبه روزنه او حفاظتي اقدامات تر سره نه شي، ان دا که د ځوانانو فرعي کمیټې په بشپړه توګه د ځوانانو استازی هم نه وي، د دې معنا دا نه ده، چې پلان جوړونه سمه نه وه ترسره شوې.

## سپارښتنې

### د ځوانانو د فرعي کمیټې د فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره

د افغانستان د ولسي تړون پروژې په عملیاتي لارښوونو کې بدلونونه او د هغوی پلې کول د ځوانانو د فرعي کمیټې په وړتیا او ګډون کې یو شمېر شته خنډونه له منځه وړلی شي.

- **د جندر نابرابري، چې د ځوانانو فرعي کمیټې د دندو په اوسنۍ لایحې کې موجوده ده، له منځه دې ولاړه شي.** په دې کار کې کېدای شي د ښځو لپاره د ځانګړو مسوولیتونو تعیینول شامل وي، داسې چې د هغوی کارونه یوازې تر همدې مسولیتونو محدود نه کړي. بل مورد، د خپلو کارونو د ګټه اخیستونکو په توګه د ښځو خوا ته د ځوانانو فرعي کمیټې کارونو ته لورې ورکول دي ( چې ښايي له ښځو سره د مرستې په خاطر په ټولنه کې د هغوی پر یوموټې کولو باندې په غیر مستقیمه توګه اغېزه ولري).
- **په هغو ځایونو کې چې د ځوانانو فرعي کمیټې ښځینه او نارینه غړي په جلا جلا توګه جلسې او غونډې دایروي، د همغږۍ مسائلو د حل لپاره میکانیزمونو ته بیا له سره کتنه وکړئ.** تسهیل کوونکي شریکان په ټولنو کې د همغږۍ په خاطر د میکانیزمونو جوړولو لپاره کولی شي، د جندر د معیارونو تړپیرونو ته په پام سره کار پیل کړي. دوامداره ګزینې او ملاتړ کوونکي میکانیزمونه باید له تسهیل کوونکو شریکانو سره په ګډه وټاکل شي او په هغو ځایونو کې پلې شي، چې د ځوانانو فرعي کمیټو د نارینه او ښځینه غړو ترمنځ د مستقیمي اړیکي ټینګولو امکان نه وي.
- **په کلیوالو سیمو کې د ځوانانو فرعي کمیټو ترمنځ له خنډونو او د مشارکت له فرصتونو څخه لیدنه وکړئ.** د کلسټر په کچه تر جلسو او غونډو ورهاخوا، د ځوانانو فرعي کمیټو ترمنځ د فعالیتونو د همغږۍ لپاره ریښتینې ګزینې او غوراوی او ددې کار د تر سره کولو پر ګټو بحث وکړئ.

### د ځوانانو فرعي کمیټې د "ځوانان محوره" پلان لپاره

د ځوانانو په فرعي کمیټې کې د غړیتوب لپاره شوق او علاقه ټاکونکي عوامل دي او د دې کمیټې غړي غواړي ډېر کارونه تر سره کړي. نو ځکه، د ځوانانو فرعي کمیټې افغان ځوانانو ته د مشارکت او ګډون یو فرصت برابروي، په ځانګړې توګه

په کليوالو سيمو کې، چې په ډېر مشکل ورته لاسرسی کېدای شي. که څه هم د دغه ډول مشارکت برياليتوب به په دوام داره توګه د ليدو وړ وي؛ خو لاندې موارد بايد په پام کې ونيول شي:

- **په پام کې ونيسئ، چې د ځوانانو فرعي کميټې د ګڼه اخيستونکې په توګه تر کومه اندازې بايد پر ځوانانو تمرکز وکړي. که دې کار ته تمايل او علاقه موجوده وي، ښايي د ځوانانو فرعي کميټې بنسټيز تعريف او پېژندنې ته ډېره اړتيا وي.** ډېر تعريف په سيمه ييزه کچه د ځوانانو له موقف څخه ''ساتنه'' کولی شي، او همدارنګه تسهيل کوونکو شريکانو ته هدايت کوي، چې د ځوانانو فرعي کميټې غړو ته د ځوان محوره پلانونو روزنه ورکړي. د کم عمره ځوانانو يا د زيانمنونکو ځوانانو ډلو د مشارکت د پياوړتيا لپاره زيات تعديلات پکې ورزياتولی شو.
- **هغه لارې پيدا کړئ، چې د ځوانانو له فرعي کميټو څخه د ټولنې له سطحې ور هاخوا د ''ځوانانو غږ'' پورته کولو څخه ملاتړ وکړئ. دغه کار کېدای شي د مشارکت له پياوړي شوو مډلونو له لارې تر سره شي.** په داسې حال کې چې د ځوانانو يو شمېر فرعي کميټې له پخوا څخه همدا کار تر سره کوي، هغوی په ځانګړې توګه په دې برخه کې روزنه نه ده ترلاسه کړې او يا لاربښوونه نه ده ورته شوې، چې د ځوانانو نظرونه را ټول او له هغوی سره اړيکه ټينګه کړي. جلسې د هغو ځوانانو پر مخ خلاصې نه دي، چې د ځوانانو فرعي کميټې غړي نه دي. د دې لپاره چې د ځوانانو فرعي کميټې د ټولو ځوانانو لپاره په يوې ريښتينې مرجع بدلې شي، په دې برخه کې د ځوانانو فرعي کميټو ډېرې روزنې او د افغانستان ولسي ټرون پروژې د بنسټيزو جوړښتونو لخوا د هغوی ملاتړ ته اړتيا ده.
- **د غير دولتي سازمانونو ( انجيوګانو) او د ځوانانو فرعي کميټو ترمنځ د مشارکت او ګډون اسانولو لارې چارې ولټوئ.** په دې برخه کې د ځوانانو فرعي کميټې د غړو له شخصي نوښتونو څخه ملاتړ ممکن يوه لار وي. په ورته مهال، له يو واقعبينانه نظره، د ځوانانو فرعي کميټې به همداسې د شريکانو پر مراجعي يا په هغو پروګرامونو پورې تکيه او تړلې وي، چې د دې کميټو حضور ته په کتو جوړ او پيل کېږي. د دې شريکانو په منځ کې د ځوانانو فرعي کميټو د شهرت زياتېدل، ځوانانو ته د هغوی د خدمت د ډول مشخص کولو په ګډون، دغه ډول همغږي زياتولی شي.
- **د ځوانانو فرعي کميټو پر وړاندې د ټولنيزو محدوديتونو او د قدرت ديناميکونو د درک کولو لپاره د ټولنې په کچه کار ته دوام ورکړئ.** ډاډ ترلاسه کول، چې د ځوانانو فرعي کميټې د جلسو لپاره مناسب ځای لري او که نه، او په سيمه ييزو قدرتونو په علايقو متکي نه ده، د هغوی ( او همدارنګه د سيمې پراختيايي شورا) له نسبي خپلواکۍ څخه د ساتنې او ملاتړ يوه اسانه بريا بلل کېدای شي. پر دې سربېره، په دې ټولنو کې د سازمانونو د قدرت د جوړښت چټکې ارزونې – د نسلونو ترمنځ د مراتبو د سلسلې ترکيبي اغېز په ګډون – اړتيا ده، چې تر پلان جوړولو مخکې د ځوانانو کميټې لخوا بايد تر سره شي. په هېواد کې اوسني نازکو شرايطو ته په کتو، ښايي ځوانانو ته د رسيده ګۍ په خاطر د ځوانانو له فرعي کميټو سره د ګټور او اغېزمن تعامل په څرنګوالي کې د ټولنو ترمنځ به توپير موجود وي.

## د نورو ځوانانو لپاره پلان جوړونه

- **د لومړيتوب لرونکو موخو د ټاکلو په ګډون، د ځوانانو مشارکت په موخه د ګډو ژمنو د پراختيا لپاره له دولتي ادارو سره خبرې اترې او کار، پياوړی کړئ.** دغه څېړنه د معلوماتو او ډېټاوو د بشپړولو ارزښت او د ارقامو تحليل د ځوانانو د مشارکت پر وړاندې د ټولنيزو خنډونو له بنسټيز درک سره څرګند. د دې خنډونو په ګوته کول ښايي ځينې وختونه د حساسو موضوعګانو په اړه بحثونه هم له ځان سره ولري؛ لکه دولتي ضد احساسات، قومي ګوښه کېدل او د جندر معيارونه. د افغانستان د ځوانانو ملي پاليسی په څېر پاليسي ګانې او تګلارې د دغه ډول خبرو اترو د پيل ټکي په توګه د ځوانانو ګډون اجنډا ته د لومړيتوب ورکولو لپاره استفاده کېدای شي.
- **نړيوال بانک بايد د ځوانانو د مشارکت فرعي موخې په افغانستان کې د اوسني مالي مرستو په ټولو پراختيايي پروژو کې ورزياتې کړي.** همدا اوس، ځوانان په غير مستقيمه توګه له يو شمېر پروژو څخه ګټه اخلي، پرته له دې چې نوموړې پروژې هغوی د خپلو ګټه اخيستونکو په ډله کې وشمېري. لکه دغه پروژې: د حفظ او مراقبت او رغونې پرمختيايي

پیسي (MCCG)، له خورا بېوزلو او اړمنو کورنیو سره د مرستي پروژه (Targeting the Ultra Poor) ، د کلیوالو ښځو د اقتصادي پیاوړتیا تر چتر لاندې د ښځو اقتصادي ځواکمنتیا پروژه (WEE-RDP). ښايي ځوانان له دغه پروژو سره یو ځای شي؛ خو د هغوی له دغه ګډون څخه ساتنه نه کېږي او د هغوی د مشارکت پر وړاندې اضافي خنډونه نه لري کېږي ( لکه MCCG پروژې ته د مشرانو ځوانانو د ټاکلو احتمال یا اضافي ټولنیز محدودیتونه او د WEE-RDP پروژې په پروګرامونو کې د ځوانو او مجردو نجونو تحرک). ګټور به وي، چې یادې پروژې او نورې پروژې په جلا جلا توګه وڅېړل شي، ترڅو په جوړښتی ساختار کې اړین بدلونونه راشي او دهغو له مخې د ځوانانو مشارکت پیاوړی شي.

- **د اقتصادي مشارکت لپاره هڅې د ټولنیز انسجام په پیاوړي کوونکو مداخلو بشپړ کړئ.** دغې مطالعې ښودلې ده، چې پر اقتصادي مشارکت تمرکز په یوازې سر ورپسې ننګونو ته، چې د ځوانانو د محرومیت او بې برخې کېدنې لامل شوي دي، ځواب ویونکی نه دی. پر دې سربېره، په داسې حال کې چې د افغانستان ډېرې ځوانې ښځې کار کولو ته لېواله دي، د افغان مېرمنو د پام وړ شمېر ښځې کار کولو ته تمایل نه لري، داسې یو شمېر ځوانې نجونې او مېرمنې شته دي چې کار کولو ته لېواله دي، او که چېرې د پام وړ دندو د رامنځ ته کولو امکانات هم برابر شي، دا احتمال شته چې لا هم د هغوی ټولې هیلې پوره نه شي. هغه پروګرام چې یوازې دندې رامینځته کوي او د وړتیاوو په روزنې کار کوي، ښايي ځوانان له پامه وغورځوي؛ او په ځانګړې توګه د بې علاقه ځوانانو په منځ کې د ټولنیز انسجام او تنظیم لپاره فرصتونه له لاسه ورکړي. د اروایي روغتیا خدمتونه او د روږدي کسانو درملنه باید پیاوړي شي، د شخړو د مدیریت لپاره مداخلې او داوطلبانه فعالیتونو پراختیا، ټول باید په پام کې ونیول شي.
- **ځوانان په خپلو ټولنو کې د بدلون د عواملو په توګه د دولتي ادارو د پروګرامونو له لارې دخیل کړئ.** دغه کار کولی شي د کلیوالو ځوانانو لپاره د مثبتې مداخلې تر ټولو هیله بښونکی ټکی وي، ځکه ډېری یې له یوې خوا فکر کوي، چې دولت هېر کړي دي او له بلې خوا په خپلو ټولنو کې بې قدرته پاتې شوي دي. هغه مداخلې چې ځوانان د بدلون د عواملو په توګه په خپلو ټولنو کې دخیل کوي او هغوی د دولت په پلانونو کې شاملوي، د ټولنیز انسجام په جوړولو او له دولت سره د ځوانانو حسن نیت د پیاوړي کولو لپاره ګټور تمامېدای شي. ښکاره ده، چې د ځوانانو فرعي کمیټې یو له هغو میکانیزمونو څخه دي، چې د هغو له لارې دغه کار تر سره کولی شو؛ خو نورې لارې چارې هم پلټل کېدای شي.
- **په کلیوالو سیمو کې د مهارتونو پر بنسټ د روزنې پراختیا او د معیشتي لارو چارو ایجادولو ته د جدي پاملرنې لپاره، باید تمرکز وشي.** که څه هم کلیوالو ځوانان د دغه ډول پروګرامونو ډېره غوښتنه کوي؛ خو په اوس وخت کې د لنډمهاله روزنیزو پروګرامونو د اغېزمنتوب په اړه دقیق شواهد نشته. د دغو غوښتنو دلیلونه نه دې روښانه او یوازې د دندو له رامینځته کولو سره هم تړاو نه لري. د ټولنې د اړتیا وړ مهارتونو په لټولو کې له ټولنو سره همکاري، د کرنې سکټور په ګډون، چې ښايي ډېری ځوانان پکې بوخت کړای شي، هغه باید د راتلونکو پانګونو بنسټ وي.
- **د پروژو طرح کول باید هغه مشخص زیانونه، چې د مخکنیو نسلونو په پرتله افغان ځوانان ور سره مخ کېږي او همدارنګه متقابل زیانمنونکي، باید په پام کې ونیسي.** د افغان ځوانانو د نفوس ډېرېدل، اقتصادي رکود او په ټپه دریدل، او په افغانستان کې نازک سیاسي- ټولنیز حالت د هیواد پر اوسني ځوان نسل منفي اغېز لري. دغه وضعیت د کلیوالو ځوانانو لپاره لا بد او ناوړه‌دی. هغه ښځې او ځوانان، چې د مرستي لپاره ټولنیزې شبکې نه لري ( کورنې بې ځایه شوي، ښېرته را ستنېدونکي او یتیمان) هم د متقابل زیانمن کېدو له ګواښ سره مخامخ دي – دا ټول موارد په اقتصادي محرومیت کې نه شو را لنډولی. د پروژې طرح باید په دې ټولنیزو شبکو کې د ځوانانو د پیاوړي کولو په لټه کې وي او په عین حال کې، د احتمالي اختلالونو او ګډوډیو پیدا کېدل، چې ځوانان نور هم ناتوانه او بې ځواکه کولی شي، لکه د نسلونو ترمنځ یا د ډلو ترمنځ د کړکیچونو تحریک، د جندر په اړه د ټولنیزو اختلافونو را پورته کېدل، هم باید په پام کې ولري.